موسسه حمایه اطفال
سویدن – ناروی
پروگرام افغانستان

دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کمیسیون

# په افغانستان کې دماشومانو ټولیز وضعیت ته کتنه

## څیړنیز راپور

خپرونکې : دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کمیسون (دڅیړنې څانګه)
مالي مرسته : دسویډن او ناروي دماشومانو ملاتړ موسسه
ډیزاین : مرتضي علیزاده
چاپخونه : دافغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون چاپخونه
دخپریدو کال : ۱۳۸۶ لمریز .

## لړلیک

سریزه او د راپور پیژندنه
۱۰۱- دڅیړنې موخه ( هدف )
۱۰۲- دماشومانو په برخه کې ملي او نړیوالی ژمنې
۱۰۳- دڅیړني ډول، ځاي او کسان .
۱۰۴- ټولیز معلومات

۱۰۵- په کورونو کې دماشومانو سره تاوتریخوالې.
۱۰۶- دهویت ثبتول او دتابعیت تذکري درلودل .
۱۰۷ – روغتیا ته دلاسرسی حق.
۱۰۸-  اوبو ته دلاسرسی حق.
۱۰۹- دښوونې او روزنې حق .
۱۰۱۰- دکار په برخه کې دمصونیت لرلو حق .
۱۰۱۱- وادہ کول .
۱۰۱۲- دکډون او برخې اخیستني حق .
۱۰۱۳- پایله.
۱۰۱۴- وړاندیزونه.

## سریزه او دراپور پیژندنه:

په افغانستان کې دماشومانو ټولیز وضیعیت او موقف دمختلفو دلیلونو پر اساس توپیر لري، خو هغه څه چې روښانه دي هغه دادي چې په ټولیزه توګه په دي هیواد کې دغه ګروپ ضرر لیدونکې دي او دخطر سره مخامخ دي، ددې تر څنګه د هغوي د او سیدلو ځایونه او فرهنګي حساسیتونه، جنسیت، او اقتصادي وضعیت هم دهغوي پر ضرر لیدني باندي نور هم تاثیر کوي او د هغوي ضرر لیدنه نوره هم ډیروي .

په افغانستان کې داوږدو جګړو وروسته دماشومانو وضیعیت په پنځو وروستیوکلونو کې بدلون کړي دي خو دا بدلونونه په لومړي سرکې په ټولو برخو کې نه دي او دوهم داچې دماشومانو د ډیرو ستونزو په لرلو سره دهغوی اندازه هم دلمس وړ نه ګرځي.

په ټولیزه توګه افغانستان یو سنتي هیواد دي او د لرغونو رواجونو او عنعنو پیروي دا زمینه برابروي چې هغوي نور هم ضرر ووینې افغان ماشومان په کلیو او ښارونو کې دمختلفو ستونزو سره لاس په ګریوان دي په کلیو کې ددوي ژوند د هغه سیمې دحاکمه او مروج عنعنو او رسومو سره مخامخ دي چې پورته عنعني دماشومانو لاسرسنه و روغتیا، ښوونې او روزني او نوري اړتیا وي تر خپل آثر لاندې راولي، دمثال په توګه هلته هلکان تر نجونو ډیلر چانس لري چې ښوونځیو ته ولاړشي او دکم سنه ودونو رواج هم هغه څه دي چې دوي او په خاص ډول نجوني دښووني او روزني څخه محرومه کوي .

د ډیرو ماشومانو راوړل دیوه ښځ روش به توګه منل شوي رواج هم هغه څه دي چې ماشومان د روغتیا ته دلاسرسني د ښووني او روزني او دشخصیت د ودي کولو څخه راګرځوي، چې په ټولیزه توګه نجوني ددغه سستم قربانیاني دي .

که څه هم په ښارونو کې دماشومانو له پاره دا وخت او امکانات ډیر دي چې ښووني او روزني او روغتیا یې ځانګو ته لاسرسي ولري او دلته کورنۍ دا ښه ګڼي چې دهغوي ماشومان لوست وکړي، خو دنفوس د ډیروالي، کارونو ته نه لاسرسنه ټولني ته دتوکه نه رسیدل او دکلیو څخه وښارونو ته د ډیرو شمیرو دوامدار ه مهاجرتونه ددې سبب ګرځي چې له لویانو نه ماشومان ضرر لیدونکې و اوسي .

د ښونځیو شمیر او ښوونیزي اسانتیاوي د غوښتنو سره سم نه دي، د کار ګرو او ګدا ماشومانو شمیر په ډیریدو دي، ماشومان دساتیري او تفریح له پاره لږ وخت لري .

د نالوستو شمیراو په خاص ډول د نالوستو میندو دشمیر زیاتوالي ددې سبب ګرځیدلي چې ډیر پلرونه او میندي دماشومانو د روزني څخه پوره معلومات و نه لري ددي ترڅنګه په کورونود ښځو په وړاندي تاوتریخوالي هم مخ په ډیریدو دي چې دغه دواړو دماشومانو په وړاندي د تا وتریخوالي اندازه ډیره کړي ده چې دهغه په پایله کې ماشومان په ښوونځي او کورونو کې د تاوتریخوالي سره مخامخ دي درست شمیرته دلاسرسني له پاره د ډاډ وړ ځانګي نشته نو به سلوکې د ماشومانو صحیح رقم، د هغوي سن او نور هغه څه چې شمیر نه یې باید وي به تخمیني دول باندي یې کوي .

هغه ماشومان چې خاصي پاملرني ته اړتیا لري لکه معلول ماشومان لږه پاملرنه ورته شوي ده به معمول ډول د داسي ماشومانو له پاره په ملي اومحلي سویه باندي خاص پلانونه او پروګرامونه نشته.

دا وضعه په داسي حال کې روانه ده چې افغانستان په ۱۹۹۴زکال کې د ماشومانو دحقونو دنړیوال میثاق غړي شو او دهغه ترڅنګه یې په اساسي قانون کې دماشومانو دملاتړ ژمني کړي دي .

داساسي قانون ۵۴ماده دماشومانو دملاتړ په برخه کې وایې:

((  کورنۍ د ټولني اساسي رکن دي او ددولت تر پاملرني لاندې ده .
دولت دکورنۍ او په ځانګړي توګه د مور او ماشومان دجسمي او روحي روغتیا د تامین، د ماشومانو دروزنې او داسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړلو له پاره لازم تدبیرونه نیسي ))
دپورته یادوني په نظرکې نیولو سره د ۲۰۰۶ زکال په نیمي کې د افغانستان د بشر د بشر دحقونو خپلواک کمیسیون دسویډن او ناروي هیوادونو د ماشومانو د ملاتړ کوونکې موسسو په مرسته باندي د ځارني یوه پروژه جوړه کړي چې د ماشومانو وضیعیت به په ۲۱ ولایتونو کې په ازمایښتي توګه وڅیړي، په دې پروژه کې ټوله معلوماتونه په مستقیمه توګه دماشومانو سره د خبرو اترو په وسیله چې په ځانګړي او تولیزه توګه شوي دي راتول کړل شوي دي .
دغه راپور هغه تحلیل دي چې په افغانستان کې دماشومانو تولیزه وضعه د هغه معلوماتونو څخه په لاس راغلې ده کوم چې د کمیسیون د سیمه ییز ځارنکو له خوا راتول شوي وه.

## ۱۰۱- د راپور موخه ( هدف ):

درپوت اساسي موخي په دډول دي:
- په افغانستان کې د ماشومانو د وضعیت انځور.
- په افغانستان کې د دولت دملی او نړیوالو ژمنو په رڼا کې دماشومانو دوضعیت ارزونه.
- داماشومانو د ستونزو هغه بیان چې راسأ د هغه د خولې څخه راوتلي دي.
په دې راپور کې اساسي مسلې دادي
- د هغه ډلي ماشومانو پیژندنه چې ضرر لیدونکې دي ی؛
- و روغتیا یې امکاناتو ته د ماشوانو لاسرسنه.
- د ښوونې او روزني حق ته د ماشومانو لاسرسنه.
- د کار ګرو ماشومانو وضعه.
- دهغه ماشومانو وضعه چې بي وخته ودونه کوي.
- د ځاني مسئلو په هکله د ماشومانو د ګډون تحلیل.

## ۱۰۲- دراپور برابر ولو او معلوماتو لاسته راوړلو ډول:

دغه راپور د سوال کولو د طریقي څخه په ګټه اخیستني او مصاحبي کولو څخه په لاس راغلي دي د ډکو شوو فورمو ټولیر شمیر ۲۹۴۱ته رسیري د ټول شمیر مرکه شویو  څخه په سلو کې۷, ۵۰ یې نجوني دي چې د هغوي ټوله شمیر ۱۴۹۰نجوني کېري او پاتي برخه چې ۴۹,۳ په سلو کې جوړوي هلکان.
دغه معلوماتونه ددغو ۲۱ولایتونو څخه راتول شوي دي.
کابل – بدخشان – بادغیس- بغلان – مزار شریف. فاریاب، هرات جوزجان، کندهار، کاپیسا، خوست، کندز – ننګرهار  پکتیا، پکتیکا، پنجشیر، پروان، سمنګان، زابل، لغمان او تخار.
ددغه معلوماتونو د راټولولو کار د ۲۰۰۶ زکال د جون میاشتي د ۱۱- نیټې څخه پیل او د ۲۰۰۶ زکال د دسامبر تر ۲۹ پوري د سیمه ییزو ځانګو د ماشومانو د دفتر له خوا سرته رسیدلي دي.

په لاندې جدول کې په هر ولایت کې د مرکه شویو شمیر ګوري

| شمیر | دولایت نوم | د مرکه شویو شمیر |
|---|---|---|
| ۱ | بدخشان | ۱۱۶ |
| ۲ | بادغیس | ۳۶ |
| ۳ | بغلان | ۱۲۰ |
| ۴ | بلخ | ۳۶۲ |
| ۵ | فاریاب | ۴۰۰ |
| ۶ | هرات | ۳۶۸ |
| ۷ | جوزجان | ۱۶۲ |
| ۸ | کابل | ۱۰۲ |
| ۹ | کندهار | ۹۲ |
| ۱۰ | کاپیسا | ۲۰ |
| ۱۱ | خوست | ۵۳ |
| ۱۲ | کندز | ۸۵ |
| ۱۳ | لغمان | ۶ |
| ۱۴ | ننګرهار | ۴۰۳ |
| ۱۵ | پکتیا | ۲۲۹ |
| ۱۶ | پکتیکا | ۵۴ |
| ۱۷ | پنجشیر | ۹۲ |
| ۱۸ | پروان | ۹۰ |
| ۱۹ | سمنګان | ۵۳ |
| ۲۰ | تخار | ۹۰ |
| ۲۱ | زابل | ۸ |

هغه سیمي چې د مرکو له پاره ټاکل شوي او مرکې شوي دي د هغوي اساسي معیاربشري حقونه وه چې لاند ي موضوعګانې پکې شاملي وې:
- هغه سیمي چې بشري حقونه پکې تر پښولاندې شوي وه.
- د هغه ماشومانو ځانګړي ګروپ چې ضرر لیدونکې وه او یا په لږکښو توکمونو پوري یې اړه درلوده.
- د پیښو راټولول او په خاص دول د بشري حقونو د سرغړونو پیښې

په لاندې جدول کې د مصاحبه شووماشومانو دسن په لحاظ کته ګوري ویني

| د مرکــه شــویو ټــولیزه شمیره | دعمر له پلوه د هغوي کته ګوري |
|---|---|
| ۱ ماشوم | ۵- کلن |
| ۱۰ ماشومان | ۷- کلن |
| 120ماشومان | ۸- کلن |
| ۱۷۹ماشومان | ۹- کلن |
| 291 ماشومان | ۱۰- کلن |
| 246 ماشومان | ۱۱- کلن |
| 473 ماشومان | ۱۲- کلن |
| ۳۹۴ ماشومان | ۱۳- کلن |
| 369 ماشومان | ۱۴-کلن |
| 336 ماشومان | ۱۵-کلن |
| 244 ماشومان | ۱۶-کلن |
| 225 ماشومان | ۱۷-کلن |
| 53 ماشومان | ۱۸-کلن |

دپورته سروې په بهیر کې سیمه یېزو ښارونکو ۲۷داسي مسلي په نښه کړي چې د بشري حقونو څخه سرغړونه شوي وه .
په دغو مرکو کې د افغانستان د ټولو توکمونو ماشومانو ګډون کړي دي چې تاجک، پښتون، هزاره ازبک، ترکمن، بلوچ، پشه یې، عرب اونور وه .

## ۱۰۳- د ماشومانو په اړه ملي او نړیوالی ژمنې:

افغانستان یو د هغو هیوادونو څخه دي چې په ۱۹۹۴زکال کې یې د ماشومانو د حقونو کنوانسیون لاسلیک کړي او ځان یې دهغه په تطبیق او عملي کولو مکلف بللي دي .
دماشومانو د حقونو کنوانسیون هغه یوازیني نړیوال سند دي چې د ماشومانو د حقونو د ساتني ضمانت کوي او په نړۍ کې ۱۹۲ هیوادونو هغه لاسلیک کړي دي، دماشومانو دحقونونړیواله اعلامیه او هغه اختیاري پروټوکولونه چې د ماشومانو د حقونو چې د نړیوال میثاق ضمیمه دي ( د ماشومانو د پلورلو په هکله اختیاري پروتوکول د ماشومانو فحشا او غیر اخلاقي فلمونه و او په پوځي شخړو کې دماشومانو د ګډون اختیاري پوتوکول چې د ۲۰۰۲ ز کال د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون متمم دي .) نور هغه نړیوال سندونه چې دولتونه دې ته مجبوره کوي چې د ماشومانو د ساتني او ملاتړ له پاره خاص تدبیرونه ونیسي .

د هیواد اساسي قانون یو دهغه معتبرو سندونو څخه دي چې د ماشومانو د حقونو ساتنه او ملاتړ په ټولو برخو کې کوي، له هغه جملي څخه مونږ د اساسي قانون ۵۴ماده ګورو

(( کورنۍ د ټولني اساسي رکن دي او ددولت تر پاملرني لاندې ده .

دولت دکورنۍ او په ځانګړي توګه د مور او ماشومان دجسمي او روحي روغتیا د تامین، د ماشومانو دروزني او داسلام د سپیځلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړلو له پاره لازم تدبیرونه نیسي ))

په همدې ډول د اساسي قانون په ۵۳ماده کې راغلي دي .

( ( دولت د شهیدانو او مفقودینو له پاتي کسانو د معلولینو او معیوبینو د بیا ځواکمنۍ او په ټولنه کې د هغوي د فعاله ونډي اخیستني په خاطر د مالي مرستو او روغتیا یې خدمتونو د تنظیم له پاره د قانون د حکمونو سره سم لازم تدبیرونه نیسي. دولت د متقاعدینو حقوق تضمینوي او له زړو کسانو بي سرپرسته ښځو، معیوبینو او معلولینو او بي وسه یتیمانو سره د قانون له حکمونو سره سم مرستي کوي ))

همدا ډول د هیوادپه اساسي قانون په ځانګړي ډول دماشومانو دکار په هکله په روښانه ډول په ۴۹ ماده کې لیکل شوي دي :

((د جبري کار تحمیل منع دی.

دجګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې د عامو ژوند او هوساینه تهدید کړي، فعاله برخه اخیستنه د هر افغان ملي وجیبه ده.

پرماشومانو د کار تحمیل جواز نه لري. )

ښووني او روزني ته د لاسرسني په هکله د اساسي قانون په ۴۳ماده کې راغلي دي

((زده کړه د افغانستان دټولو اتباعو حق دی چې د لیسانس تردرجې پورې وړیا د دولت له خوا تأمینېږي.

دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تأمین لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح اوتطبیق کړي او د مورنیوژبو د تدریس لپاره په هغوسیمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي. ))

د پورته مادو پربنا د دولت له خوا هغه قانون نافذ شوي دي کوم چې په هغه کې هغه سرغړوني چې په د ماشومانو د حقونو په هکله کېږي وڅیړل شي .

ددې ترڅنګه په دې ورځو کې د کار او ټولنیزو چارو او دمعیوبینو او معلولینو او شهیدانو وزارتونو له خوا داسي ستراتیژي ترتیب شوې ده چې هغه ماشومان چې خطر ورته متوجه دي وساتي چې داهم یو ملي سند دي چې د ماشومانو ساتنه او ملاتړ

## ۱۰۴- ټولیزې شمیري او معلومات:

۱- په سلو کې ۸۱ ,۷ دمصاحبو کوونکو څخه د کلیو ماشومان دي او ۳ ,۱۸ یې بیا دښارونو ماشومان جوړوي .

د پورته شمیرني څخه څرګندیږي چې د پورته پروژې ډیره برخه کار پرهغو ماشومانو باندي شوي دي کوم چې په کلیو کې ژوند کوي .

۲- په سلو کې ۹ ,۹۵ ٪ یا په بله ژبه د پورته ټولیز شمیر څخه ۲۸۲۱ ماشومان چې ورسره مصاحبه شوې ده پخپلو کورونو ژوند کوي او ۱ ,۴ ٪ یې هغه ماشومان

دي چې کورنۍ نه لري، باید په یاد ولرو چې ددغه کورنیو سرپرستي د پلار په غاړه نه وه، د کور دسرپرست په توګه نور کسان معرفي شوي دي چې دیر ددغو کسانو ښځه داسي وضعه لري چې هغوي پخپله سرپرستي، مراقبت او ملاتړ ته اړتیا لري د مثال په ډول د هغه جملي نه ۲, ۱۳ ٪ د کورونو سرپرستي د کوندو ښځو، ۳ , ۲۹دزړوکسانو، ۶, ۱۴دماشومانو، ۶, ۳۰ د راستون شوو معلولینو ۷, ۱ ٪ د داخلي بېځایه شوو کسانو بیا ۶, ۱ ٪ په غاړه لرل .




که دماشومانو د حقونو د کنوانسیون مادې په غور ولولو نو په دغه کنوانسیون کې ډېر ټینګار د ماشوم د ښو ګټو له پاره شوي دي ددغه کنوانسیون په دریمه ماده کې راغلي دي (( په ټولو قوانینو او تصمیونو کې دي دماشوم لوړي ګټي په نظر کې ونیول شي او دولتونه باید خپل لازم ملاتړ د هغه ماشومانو سره وکړي کوم چې د هغوي پلرونه د هغه په عملي کولو کې بریالي نشي. ))

د پورته کنوانسیون په حواله د ماشوم لوړي ګټي په نظر کې نیول له هر څه نه مهم دي، خو کله چې ماشوم پخپله د کورنۍ سرپرست وي او یا داسي څوک د هغوي سرپرستي وکړي چې پخپله و ملاتړ او مرستي ته په جدي دول اړتیا ولري نو په روښانه توګه ویلاي شو چې د داسي ماشومانو حقونه تر ښښو لاندې شوي دي او د خطر سره مخامخ دي .

په همدې ترتیب یادونه وشوه چې په سلو کې ۱, ۴ ماشومان په خپلو کورونو کې نه اوسیږي، د نورو ماشومانو د ژوند طریقه په دې ډول ده .

- ۱, 47 ٪ د خپلوانو سره ژوند کوي .
- ۶ , ۲۸ ٪ په روزنتونونو کې اوسیږي .
- ۸ , ۲1 ٪ هغه ډله ماشومان چې ډېری یې د روزنې او اصلاح په مرکز کې اوسیږي .
- ۵ , ۲ ٪ یوازي ژوند کوي .

ځانګړتیاوي _ مرکه شویو کورنیو مشر




هغه ماشومانو وضعه چې کورنۍ نلري او د بل چا سره یا دځان سره ژوند کوي پورته ګراف ښیې چې د ماشومانو لو ي شمیر یې د کورنۍ د محبت نه محروم دي او د خپلوانو او یا روزنتونونو کې ژوند کوي، دغه کته ګوري ماشومان د جدي ستونزو سره لاس په ګریوان دي او دروغتیایې، غذایې او دژوند د نورو اسانتیاو څخه محرومه ژوند کوي .

یتیمان او بې سرپرسته ماشومان هغه څوک دي چې په افغانستان کې د ضرر لیدني سره مخ دي او تراوسه پوري هغوي ته باملرنه نه ده شوې .

۳- د پورته سروي به حواله ۱, ۳۰ ٪ یا په بله ژبه ۹۳ ماشومان هغه څوک دي چې معلولیت لري، دغه معلولو ماشومانو د خپل معلولیت لرلو نه خپلې ستونزي بیانولي له هغه جملي نه ۸ , ۸۲ ٪ ( ۸۸) معلولو ماشومانو وویل چې دوي په سیمه کې ستونزي لري.

ځانګړتیاوي _ مرکه شوي ځانته دی _ ملتیا نلري له چا سره ژوند کوي



ځیرونو ښودلې ده چې معلول ماشومان د ځانګړي مراقبت او توجه ته اړتیا لري، نوکه ځانګړي توجه ورته ونه شي نو د سختو ستونزو سره بـه لاس پـه ګریـوان وي، هغوي وویل چې ددوي ستونزو ته توجه نکېږي او ډیـر ځـل د خبـل کـور د خجالـت او سرکوزۍسبب ګرځي، د لوبو او ساتیرو څخـه محرومـه دي، ددې ترخنګـه معلـول او معیـوب ماشـومان و روغتیـایې، ښـوونیز او روزنیـزو پروګرامونـو تـه لاسرسـي نلـري اوتراوسه پـوري ددوي لـه پـاره داسـي موسسـي نـه دي برانسـتل شـوي چـې پـه ځانګړي توګه دي ودوي ته ښـوونه او روزنه ور کانـدي، حتـا د اورتوپیـدي ( هـډوکې ) کلینیکونه چې ددوي له پاره مصنوعي لاي او پښي جوړوي په ولایتونو کې نشته .

د ماشومانو د حقونو کنوانسیون په ۲۳ ماده کې لیکل شوي دي .

(( د معلولو او معیوبو ماشومانوڅخه ځانګړي مراقبت او ددوي د ښوونې او روزنې له پاره ځانګړي میتود د دوي حق دي، دا به د هغوي سره مرسته وکړي چې تر ډیره پوري هغوي پرځان متکې شي او په دې ډول په ټولنه کې فعاله ژوند پرمخ بوزي. ))

## ۱۰۵- په کورونو کې د ماشوم په وړاندې تاوتریخوالی:

په لاس راوړي شمیرنه ښیې چې په سـلو کـې ۶ , ۱۱ ٪ ( ۲۳۰کسـه ) د ټولـو مرکه شویو ماشومانو څخه د خپل پلار او مور د سلوک او کړونوڅخـه رضـائیت نلـري چې ددغه جملې څخه ۸, ۲ کسه چې ۱, ۵۱ په سلوکې کېږي د فزیکې ( بـدني ) تاوتریخوالي څخه او ۴ , ۴۸ ٪ یې د روني ستونزو څخه شکایت درلودي، دا په داسـي حال کې ده چې دیرو ماشومانو ددې زړه ورتیا نه لرله چې د سوال ځواب ورکړي .

په سیمه کې دمعلولیت له پلوه ستونزه لرئ؟




پورته ګراف را ښیې چې په کورونو کـې دننـه د ماشـومانو پـه وړانـدې فزیکـې او رواني تاوتریخوالي کېږي چې ډیر ځله د مور او پلار او یا هـم د هغـو کسـانو لـه خـوا کېږي کوم چې ددوي په خوا کې اوسـي، چې دغه تاوتریخوالي بیا ددې سبب کېږي چې ماشومان د عقدو څخه ډک لوي شي او پخپله هـم تـا وتریخـوالي ځانتـه غـوره کړي .

## ۱۰۶- د تابعیت هویت پاڼه ( تذکره ):

د پورته سروې څخه د اسي څرګندیږي چې په سلو ک ۲, ۸۰ ٪ ( ۲۳۵۵کسه ) د هویت پاڼه نه لري، یوازې ۶ , ۱۸ ٪ ( ۵۴۵ماشومان ) د هویت پاڼي لري، د ماشومانو له پاره د هویت پاڼي برابرول ډیر مهم دي چې د ژوند په ټولو برخو کې مهم تاثیر کوي .

په هیواد کې رواني ستونزي ددې سبب شوي دي چې ماشومان بي هویت پاڼو پاتي شي خو د هغه ترځنګه هم په سیستم کې نقص شته دي چې د زیریدو او هویت پاڼو ویشلو فرهنګ نشته او ترهغه لا بده داده چې خلک د هویت پاڼو اخیستلو او دزیریدو د ثبت سره هیڅ دول علاقه نښيې .

د تابعیت د هویت پاڼې نه لرل چې په هغه کې د ماشوم سن او پیژندنه لیکل کیږي ددې سبب ګرځي چې ماشوم د سختو ستونزو سره مخامخ شي، دا سخته ستونزه هله څرګندیږي چې د قانون د تعارض په وخت کې ورته اړتیا وي، نو د هویت پاڼي نه درلودل ددې سبب نه شي چې د قضیې دڅیړولو په وخت کې د محکمي له خوا د هغه حق د ماشوم په توګه تر پښو لاندې شي، په دې برخه کې د نجونو زیانمني ( ضرر لیدل ) ډیره ده ځکه د هویت پاڼي د نه موجودیت په صورت کې کېداي شي چې هغوي په لږ سن باندي واده شي.

د ماشومانو د حقونو کنوانسیون ۸ ماده د هویت پاڼي د لرلو په هکله داسي لیکې :

(( ماشومان حق لري ترڅو نوم، ملیت او دکورنۍ نوم ( خټه ) ورته ورکړل شي ))

## ۱۰۷- روغتیا ته د لاسرسی حق :

سالمه روغتیا او سلامتي نه یوازي د ماشوم د ودې او غتیدو له پاره بلکې دهغه د طبیعي فعالیت او لوبو له پاره هم اړینه ده، هغه ماشوم چې د روغتیا څخه محروم وي که په عمل کې ناروغ هم نه وي خو د ودې او غټیدو څخه وروسته پاتیږي، د ماشومتوب په وخت کې ناروغي د ماشوم فعالیت او دهغه سلوک تر تاثیر لاندې راولي. دا ثابته شوې ده چې سختي ناروغي د ماشوم د ژوند پر ټولو برخو منفي اثر کوي او په دې ترتیب نو د هغه بدني فعلیت ته زیان رسوي او ماشوم د نورمالي ودي څخه وروسته پاته کیږي .

د روغتیا حق د اساسي او لازمي حقونو څخه شمیرل کیږي چې د هغه له مخي نو هر څوک حق لري چې د ډیرو ښو معیارونو، اسانتیاوواو روغتیایې حق د لرلو څخه بهره مند وي .

دروغتیایې حق لرلو څخه یو یې هم دادي چې روغتیا یې خدمتونه موجود وي یا په بله ژبه ایا دولت روغتیایې اسانتیا وي اولس ته برابروي کړي دي که نه ؟

د ځارني او مرکو پایلو ښودلي چې په سلو کې ۲۲٪ ( ۵۹۳ماشومان ) وایې چې د ددوې په سیمه کې هیڅ ډول روغتیایې اسانتیاوي وجود نلري، پورته شمیر راښیې چې په ډیرو سیمو کې روغتیا یې اسانتیاوي او خدمتونه موجود دي. خو د هغوي د ویلو او بیان څخه داسي څرګندیږي چې ځني دلیلونه شته دي چې د روغتیایې خدمتونو ګټور توب ډیر لږدي او یا هم نشته. هغه ماشومانو چې پورته سوال ته یې مثبت ځواب ورکړي وو په سلو کې ۲, ۴۷ ٪ یې وایې چې روغتیایې اسانتیاوو ته لاسرسنه د ستونزو سره مله وي .




ځیړني راښیې چې د مرکو کوونکو ټولو شمیر څخه په سلو کې ۲, ۴۷ ٪ ( ۵۲ ۱۳ ماشومان) وایې چې په سیمه کې د روغتیا یې اسانتیاووڅخه د ګټې اخیستني په وخت کې د ستونزو سره مخامخ کېږي.

- په سلو کې ۶, ۵۲ ٪ ماشومان وایې چې د روغتیایې خدمتونو مرکزونه د دوي د کورنو څخه لیري دي.
- په سلو کې ۸ , ۱۶ ٪ وایې چې په هغه مرکزونو درمل او طبي وسایل نشته.
- په سلو کې ۴ , ۱۲ ٪ وایې چې د درملو کېفیت خراب دي.
- په سلو کې ۴ , ۸ ٪وایې چې دد روغتیایې خدمتونو له پاره پیسي نه لري .

لږ شمیر مرکه شویو بیا د تبعیض موضوع ته اشاره وکړه چې د دوي په مقابل کې کېږي او دښځینه رنځ پوهانو نشته والي یې هم د شکایت په توګه ووایه .

ځیړونو و ښودل چې د مرکه شویو دیره برخه ځینګار کوي چې د روغتیایې خدمتونو رښتیاني ستونزي د درمل نشتوالي، د بي کېفیته درملو نو استعمال، د ناروغانو سره تبعیض، د ښځینه رنځورپوهانو نشته والي او دپیسو نه درلودل دي .




د هیواد د اساسي قانون په ۵۲ ماده کې د روغتیایې حق لرلو په برخه کې لیکل شوي دي : (( دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلي او روغتیایې اسانتیاوي د قانون د حکمونو سره سم تامینوي .
دولت د قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیایې مرکزونو جوړول او براختیا لپاره لازم تدبیرونه نیسي .))
د پورته مادې پربنا باندي دولت مکلفیت لري چې د هیواد ټولو اتباعو ته په وړیا ډولروغتیا یې اسانتیاوي برابري کړي.
د ماشوم د حقونو کنوانسیون په ۲۴ ماده کې د روغتیا یې خدمتونو څخه دګټې اخیستني په هکله لیکل شوي دي (( په ډېره عالي سطح باندي روغتیا یې خدمتونو ته لاسرسی حق او په ځانګړي توګه پر لومړني روغتیاساتني باندي ټینګار، وقایوي تدبیرونه، د روغتیا یې ښوونو پلي کول، د ماشومانو د مړیني د شمیر ټیټول د دولتونو د دندي څخه شمیرل کېږي، د ناوړه عنعنو د لغوه کولو له پاره هڅي او ددغو حقونو د پرځای کولو له پاره نړیوالو هڅو ته اړتیا لیدل کېږي. ))

## ۱۰۸- پاکو اوبو ته د لاسرسی حق :

د ټولنیز و فرهنګي او اقتصادي حقونو د نړیوال میثاق د لومړۍ مادې پراساس اوبو ته د لاسرسني حق یو ضروري حق ګڼل شوي چې د مناسب ژوند او روغتیا له پاره اړین دي.
پاکو اوبو ته د لاسرسني حق دیر څله کولاي شي چې د مختلفو ناروغیو مخنیوې وکړي او د ماشومانو د روغتیا سبب وګرځي، دغه موضوع په دې اړه لري چې اوبه د کومو منابعو څخه د ګټې اخیستني له پاره تیاریږي د مثال په توګه د سرخلاصو منابعو څخه د اوبو څکل ممکن دي چې په روغتیا یې برخو کې څکونکې د ناروغیو سره لاس په ګریوان کړي، په همدې دول د اوبو راوړلو واټن هم د بحث موضوع ده، څکه په

ډیرو سیمو کې دا د ماشومانو دنده ده چې کورنو ته اوبه راوړې نو د لیري واټن څخه اوبه راوړل هم ددوي وجود زیانمن تماميري .
دمرکو او څارني د پایلو پراساس په سلو کې ۶, ۳۵ ٪ مرکه شویو ماشومانو وویل چې دوي د سرخلاصو او منابعو څخه ګټه اخلي، په داسي حال کې چې په سلو کې ۴, ۶۳ ٪ وایې چې دوي د سر پټو اوبودمنابعو څخه ګټه ترلاسه کوي .

دسرخلاصو او سرپټو اوبو سرچینې




هغه ماشومان چې د اوبو راوړل د هغوې په غاړه دي د واټن له پلوه په دې ډول دي :
- د پنځلسو دقیقو نه په اوږده موده کې ۷ , ۲۱ ٪ ( ۶۳۷) ماشومان.
- د یو ساعت په شاوخواکې ۰, ۶ ٪ ( ۱۷۶) ماشومان .
ډیر هغه ماشومان چې اوبه راوړي داسي اوږده او ستونزمنه لاره وهي چې ددي خطر هم موجود دي چې د لوړو ځایونو څخه راوغورځیري په ځانګړي ډول دغه خطر د ژمي په موسم کې ډیریږي، ددې ترڅنګه دغه ډول ماشومان د تیري د خطر سره هم مخ دي .
نړیوال روغتیایې سازمان د اوبو د راوړلو د منبع واټن د پنځلسو دقیقو څخه لږ ټاکلي دي ترڅو اوبه تري راوړل شي .
د هیواد دساسي قانون د ۵۲ مادې په اساس (( دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایې اسانتیاوې د قانون د حکم سره سم تأمینوي .
دولت د قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیایې مرکزونوجوړول او پراختیا هڅوي او ملاتړ یې کوي .
دولت د سالمي بدني روزني د پیاوړتیا او دملي او سیمه ییزو ورزشونو د پراختیا له پاره لازم تدبیرونه نیسي. ))
د روغتیا یې حق څخه ګټه اخیستنه هغه څه دي چې په ډیرو نړیوالو سندونو کې پرې ټینګار شوي دي. د اقتصادي، ټولنیز اوفرهنګي نړیوال تړون د ۱۲ مادې پربنا د هر سړي د روغتیا، جسمي او رواني حق او دهغه نه ګټه اخیستنه په عالي درجه په رسمیت پیژندل شوي دي .
په همدې ډول د ماشوم حقونو د تړون په تصویب سره د افغانستان ددولت په دې مکلف شوي دي چې د ماشوم د مړینو د راټیټولو له پاره لازم تدبیرونه ونیسي او د

امیدواره ښځو د روغتیا له پاره د زیږیدو تر مخه او دزیږیدو وروسته لازمي مرستي وکړي .

په همدې ډول د ماشوم د حقونو دنړیوال تړون په ۲۴ ماده کې د ماشوم د روغتیا په اړه لیکل شوي دي :

- دولتونه مکلفیت لري چې د روغتیا ته دماشوم لاسرسی حق تامین کړي .
- دولتونه باید د ماشومانو د ناروغیو او د بي کېفیته غذا سر ه مبارزه وکړي .
- د امیدوارو ښځو لازمه مراقبت وکړي چې هغوي د روغتیا یې ښوونو سره بلدې شي او د وقایوي اجراآتو په ترسره کولو سره د ناوړه دودونو مخه ونیسي.
- دا دولت د مکلفیتونو څخه ده چې د نړیوالو تړونونو او دهیواد د اساسي قانون پر بنسټ ځان مکلف وبولي چې د زر کلني پرمختیا پروګرام د هدفونو سره سم د میندو روغتیا ته پاملرنه وکړي او دهغه پروګرام پنځمه شمیره هدف چې د میندو بـه برخه کې ده لازم اجراات وکړي .

## ۱۰۹- د ښوونې او روزنې حق:

د ښوونې او روزنې حق د افراد و داساسي حقونو له جملې څخه شمیرل کېږي، د هیواد د اساسي قانون ۴۳ ماده په دې هکله لیکي (( زدکړه د فغانستان د ټولو اتباعو حق دي چې د لیسانس تر درجې پورې وړیا ددولت له خوا تامینیږي.

دولت مکلف دي چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او دمنځنیو اجبارې زدکړو د تامین لپاره اغیزمن پروګرام طرح او تطبیق کړي او دمورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبري کېږي لاره هواره کړي. ))

د ماشوم حقونو تړون د ۲۸ مادې پراساس هر ماشوم پرته د هغه د نژاد، عقیدې او جنسیت په نظر کې لرلو سره په مساوي دول حق لري چې د مساوي فرصتونو څخه په ګټه اخیستلو سره د ښووني او روزني څخه ګټه ترلاسه کړي نو ځکه هر ماشوم حق لري چې په هیواد کې د ټولو امتیازونو څخه ګټه واخلي .

د ماشوم حقونو د نړیوال تړون ترڅنګه ښوونه او روزنه د ماشوم حق دي او دا ددولت دنده ده چې لومړنی ښوونې وړیا او جبري کاندي، د ښوونځیو مسئولان او کارګران باید د ماشوم انساني وقار او مقام ته احترام وکړي، ددغه حق د تامین لپاره نړیوالو مرستو ته اړتیا لیدل کېږي .

ښوونې او روزنې ته د ماشومانو مساوي لاسرسنه د دولت دمکلفیتونو څخه شمیرل کېږي چې باید ټینګه پاملرنه ورته وشي دغه لاسرسنه باید کمي او کېفي اړخونه ولري که څه هم ۷, ۹۶ ٪ ماشومانو چې د مرکې ورسره شوي وې هغوې ویلي وه چې ښوونځیوته ځي، خو ډیرو یې دا هم وویل چې د مختلفو ستونزو له کبله نشي کولاې چې په منظمه توګه د ښوونځي څخه ګټه واخلي.

مرکه شویو مختلف دلیلونه راوړل چې ولي په منظمه توګه ښوونځیو ته نه ځي چې ځنې یې دادي .

- په سلو کې ۵, ۳۰ ٪ ماشومان مجبوره دي چې کار وکړي .
- په سلو کې ۴ , ۱۹ ٪ ماشومانو وویل چې ښوونځي ددوي له کورونو څخه لیرې دې.
- په سلو کې ۱۵,۸ ٪ وویل چې ښوونځیوته تلل د دوي په سیمه کې رواج نه دي چې دا نولرغوني ناوړه عنعنه ده، ددې ترڅنګه په سیمو کې د ښوونځیو نشته والي او یا هم د هغه لیرې والي ددي سبب ګرځي چې په داسي سیمو کې ښوونه او روزنه رواج ونه لري.

څه نورو بیا ښوونځیو ته نه تلل ددې له پاره دلیل راوړ چې ودونه یې کړي دي، مسلکې ښوونکې نشته، ناروغه یا معلول دي، او یا هم د ښوونکو ناوړه چلند د ښوونځیو د نه تګ سبب بولي .

خو د ښوونکو د ناوړه چلند په هکله سیمه ییز څارونکې د مختلفو پیښو سره مخ شوي دي چې د هغه جملې څخه وهل ټکول دي چې د کابل ښار په یوه ښوونځي د پیښې بیان په دې ډول دی .

((د سپورټ مضمون په ساعت کې چې ټول د ټولګي نه وبهر وو د صنف د حاضرۍ کتاب ورکېږي. خو وروسته چې بل ساعت پیل کېږي او د فزیک ښوونکې راځي د حاضرۍ د کتاب په هکله پوښتي، خو کتاب ورک شوې و نو ښوونکې ددغه عمل په وړاندې د ټولګي ټول زده کوونکې وهي او توهینوي یې او لوړه کوي چې ټول زده کوونکې به په ازموینه کې ناکامه کړي او پایله هم دا شوه چې ښوونکې څه ویلي وه په عمل کې پلي کړه او ټوله زده کوونکې یې ناکامه کړل .))

څیړنو ښودلې ده چې یو لوي ګروپ ماشومان د ځینو سببو نو له امله ( لکه د کار کولو مجبوریت، ناوړه عنعنې او رواجونه او د ښوونځیو لیري والي ) نشي کولاې چې خپلو زده کړو ته دوام ورکې او ځني یې د مجبوریتونه له امله خپلي زده کړي نیمګړي پریږدي .

د مرکه شویو څخه ۲۰۹تنو ( ۸.۴ ٪ ) زده کوونکو خپلي زده کړي د لومړني ښوونځي تر بري وروسته پري ایښي دي او ۴,۶ ٪ تنو زده کوونکو د منځني ښوونځي تري بري وروسته خپله زده کړه پري ایښې ده .

د مرکه شویو څخه ۴۷۱کسه چې ۱, ۱۹ ٪ کېږي په دې نه پوهیږي چې په کوم ټولګي کې دوي ښوونځۍ پرې ایښي دی.

هغه زده کوونکو چې خپلي زده کړي سرته نه دي رسولي په مرکه کې د هغه سببونه په دې ډول په ګوته کوي .

- په سلو کې ۲۵ ٪ د کار کولو مجبوریت د زده کړو د پریښیدو سبب بولي .
- ۹,۱ ٪ بیا وایې چې دوي د ښوونځي د سامان پیریدلو توان نلري .
- ۹.۷ ٪ بیا د خراب امنیت وضعه د زدکړو د پریښودلو سبب بولي .

په یو بل راپور کې چې په ۱۳۸۵ ل کال کې دکمیسیون لخوا د کارګرو ماشومانو په هکله خپور شوي دي هم پورته خبره تائیدوي .

(( دسروې شوي ماشومانو له جملې څخه په سلو کې ۳۵ ٪ یې چې ښوونځي ته ځي د هغوي د ښووني کېفیت ډیر ټیټ دي، د اځکه چې په لومړي سر کې هغوي نشي کولاي چې په نورمال ډول باندي ښوونځي ته تلل تعقیب کړي، او بل دا چې د ستړیا په خاطر هم نشي کولاي پر خپلو درسونو ژور فکر وکړي او په همدې ډول دومره وخت نلري چې په کور کې خپل کورني کار سرته ورسوي)) .

که څه په اساسي قانون کې ښوونه او روزنه په وړیا توګه لیکل شوې ده او لومړنۍ او منځني زده کړه بایدپه جبري توګه ترسره شي خو په عمل کې دغه څه نه دي پلي شوي او هغه کارګر ماشومان چې ښوونځي ته ځي نشي کولاي چې خپل لومړني ښووني سرته ورسوي، که څه هم ښوونه او روزنه په افغانستان کې وړیا ده او دا دمشبتو ټکو څخه شمیرل کېږي خو ځیني نور ضمني لګښتونه لکه د ښوونځي یونیفورم، قرطاسیه، د موټر کرایه او داسي نور دي چې زده کوونکې د هغه مالي توان نلري، هغوي کار کوي ترڅو د ښوونځي لګښت برابر کړي، چې دا کار د غور وړ دي، په منځني ډول د یوه زده کوونکې کلني لګښت د ۱۵۰ – ۲۰۰ امریکایې ډالرو پوري ( ۷۵۰۰- ۱۰۰۰۰) رسیږي په داسي حال کې چې دیوه دولتي کارمند کلنۍ معاش د ۶۰۰- ۷۰۰ امریکایې ډالرو پوري دي .

ځیرنو ښودلې ده چې یو د هغو مهمو لاملونو څخه چې ماشومان ښوونځیو ته نه ځي هغه اقتصادي ستونزي دي چې دافغانستان اولس ورسره لاس په ګریوان دي، نو دغه ستونزي بیا د ماشومانو مور او پلار دي ته اړباسي چې پخپلو ماشومانو کار وکړي، ددې ترڅنګه د ښوونځیو لیروالي او په سیمه کې د حاکمه ناوړه دودونواو عنعنورواج هم ددې سبب ګرځي چې ماشومان ښوونه او لوست ونکړاي شي .
یوه د هغو لارو څخه چې ماشومان وکړلای شي ښووني او روزني ته لاسرسنه پیدا کړي، یوه لاره داده  هغه ماشومان چې په ښوونځیو کې نه دي، نو دلوست زده کولو په کورسونو کې دي شامل کړل شي، په هغه مرکه کې چې د ماشومانو سره شوي دي ۲۴۰۲ ماشومانو ,۷ ۷۲ ٪ وويل چې ددوي په سیمه کې داسي کورسونه نشته، خو ۷۸۶ ماشومانو ,۲ ۷۲٪ بیا وويل چې ددوي په سیمه کې داشان کورسونه موجود دي .




دځیرونو څخه داسي څرګندیږي چې دسروي شوي سیمو څخه یې ډیره برخه هغه کسان دي چې د هغوي په سیمه کې د لوست زده کړو کورسونه نشته .یو له هغه ستونزو څخه دادي چې ځیني کسان د ناوړه عنعنو او رواجونو په خاطر او یا هم د اقتصادي ستونزو له امله ښوونه او روزنه پرى ایښې ده، نو د لوست زده کړو کورسونه بیا کولاي شي چې دوي ته لوست زده کړي زمینه چمتو کړي، خو پورته ګراف راښیې چې ډیر کسان وایې چې ددوي په سیمه کې دلوست کورسونه نشته .

دهیواد داساسي قانون په ۴۴ ماده کې د نالوستي د منځه وړلو په برخه کې لیکل شوي دي (( دولت مکلف دي دښځو د زده کړو د پراختیا او توازن  د ایجاد په منظور، د کوچیانو د زده کړو دښه والي او په هیواد کې د بي سوادئ له منځه وړلو لپاره اغیزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي .))
د هیواد د اساسي قانون د ۴۳ مادې پراساس او دماشوم د حقونو د نړیوال تړون پربنسټ  چې زموږ دولت هغه سند لاسلیک کړي دي، دپورته تړون د ۲۸ مادې او داقتصادي، ټولنیز او فرهنګي نړیوال تړون د ۱۴ مادې پر اساس چې وایې (( غړي هیوادونه د تصویب د نیټې څخه دوه کلونه وروسته باید داسي یوه طرحه ترتیب کړي چې د هغه له مخي ټولوته باید دوړیا او جبرى لومړنیو زده کړو زمینه چمتو شی. ))

دښوونې اوروزنې حق د تامین لپاره دښو شرایطو برابرول د افغانستان دولت د جدي مکلفیتونو څخه دي .

## ۱۰۱۰- د کار په وړاندې دخوندیتوب حق :

دافغانستان اساسي قانون په ښکاره توګه د ماشومانو کار منع کړي د ي. دهیواد د اساسي قانون د ۴۹ مادې پراساس (( د جبري کار تحمیل منع دي. د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي فعاله برخه اخیستنه د هر افغان ملي وجیبه د ه. پرماشومانو د کار تحمیل جواز نه لري. ))
نن ورځ د ماشومانو یوه اساسي ستونزه همدغه کار دي، دیر ماشومان د کارګري د ډیر بد شکل سره مخامخ دي او هره ورځ د هغوي شمیر په ډیر یدو دي، ځني یې د سړکونو پر سر په کار بوخت دي، ځینې په سوالګرۍ او ځینې یې په شاقه کارونو بوخت دي دا ډول لړزونکې واقعیتونه دي چې د هیواد راتلونکې جوړونکې تهدیدوي او دخپلو حقونو څخه یې بې برخې کوي .
د ماشوم حقونو تړون په ۲۸ ماده کې په ښکاره وایې، (( ماشوم باید د اقتصادي ګټې اخیستنې او په داسې فعالیتونو کې د ګډون څخه چې د هغوي روغتیا زیانمنه کوي او د هغوي د ښوونې او ودې مخه نیسې ملاتړ کړل شي، دولتونه مکلفه دي چې د کار د ګډون لږ تر لږه عمر د قوانینو په وسیله تنظیم کړي او په اغیزمنو وسیلو سره د ماشوم د ګمارلو مخه ونیسي. ))
که څه هم په ملي او نړیوالو سندونو کې د ماشوم څخه د ملاتړ په هکله چې په شاقه کارونو بوخت دي ښکاره لاربښووني شته، خو تر اوسه پوري د هغوي د وضعیت د ښه والي لپاره او د هغوي د حقونو د تامین په خاطر ډیره لږه پاملرنه شوې ده .




هغه مرکې چې د ماشومانو سره شوې دي ښیې چې ۱۴۰۱ کسه ( ٪۴۷,۹ ) یې کار کوي
د کار ګرماشوم په هکله معتبر نړیوال سندونه، کنوانسیونونه او دکار په اړه دکار دنړیوال سازمان اړونده مقولې شته چې په هغه کې به ۱۸۲ اصل کې د کار د ګډون لپاره د ماشوم لږ تر لږه عمر او۱۸۳ اصل د کار د ناوړه شکل په هکله د څیړنې وړدي .
په دغه تړونونوکې راغلي دي هغه کارونه چې د ماشوم له پاره منع ګڼلي شوي دي باید له مینځه ولاړ شي او هغه څه چې د ماشوم د روغتیا او سالمې ودې سره مرسته کوي د پورته کارونو څخه جلا او توپیر کړای شي .
د لږ تر لږه عمر د اشتغال تړون ۱۸۳ اصل اشاره کوي چې ملي قوانین باید دماشومانو د کار اشتغال له پاره لږ تر لږه سن تثبیت کړي، دغه تړون په مشخصه

توګه هغه فعاليتونه چې د ماشوم له پاره زيان رسونکي دي منع کړي او په دې توګه يې بيانوي :
الف : هغه کارونه چې ماشوم دبدني، رواني او جنسي ناوړه چلند سره مخ کوي.
ب: د ځمکې لاندې، د اوبو لاندې، په جګو او خطر لرونکو لوړو او يا هم تنګو ځايونو کې کار کول.
ج : د خطرلرونکو ماشينونو يا هغه تجهيزاتو او ابزارو سره کار چې د لاس په وسيله سرته رسيږي او يا هم د درنو بارونو ليږدول .
د: په غير صحي محيط کې کار چې ممکن ماشوم د مضرو او زيانمنو توکه سره مخامخ کړي يا هم د تودخي لوړه درجه، لوړ غږ، او يا ډيري روښانه رڼاوي چې د ماشوم دروغتيا له پاره زيانمني دي .
هـ: دسختو شرايطو لاندې کار لکه د اوږدو ساعتونو کار يا هم د شپې کار چې ماشومان بې جهته د کار فرما په ماڼۍ کې بند پاته وي .
د ۲۹۴۱ ماشومانو له دلې نه چې په دې څيړنه کې يې ګډون کړي دي ۲۵۳ کسه ( ۶, ۲۰ ٪ ) د توکو په ټولولو او کوچني کارونو باندي بوخت وه، ۱۹۳ کسانو ( ۷, ۱۵ ٪ ) ويل چې دوي مجبوره وه په ډيره تودوخه او يا ډيري يخني کې کار وکړي او يا هم داسي ځاي کار وکړي چې ډير شورماشور په کې و .




په همدې ډول دهغو ماشومانو سره چې مرکه شوي ده وایې چې او ړده ساعتونو له پاره کارونه کوي چې ۷۷۵کسانو ( ۶۵,۵ ٪ ) ویل د یوه ساعت نه تر شپږو ساعتونو پوري، ۳۰۷ کسانو ویل چې د ۷ څخه تر ۱۲ ساعتونو پوري او ۱۰۱ ماشومانو ویل چې د ۱۲ساعتونو ډیر کار کوي .




د افغانستان اساسي قانون پخپل ۴۹ ماده کې پرماشومانو د کار تحمیل منع کړي دي. دماشوم د حقونو تړون هم د ماشوم د حق په توګه د ماشوم څخه د ګټې اخیستني (اقتصادي ) کار په دي ډول رابنیې او دماشوم ملاتړ کوي .
- هغه کار چې خطر ولري .
- هغه کار چې د ماشوم په ښوونې او روزنې کېمداخله وکړي .
- هغه کار چې د ماشوم جسمي، رواني، معنوي، اخلاقي او ټولنیزو برخو ته زیانمن وي .

د ماشوم د حقونو دتړون د۳۲ مادې پر اساس غړي دولتونه مکلفیت لري داسي تدبیرونه ونیسي چې د ماشوم لږ ترلږه عمر پکې بیان شوي وي چې باید له پنځلسو کلونو نه کم نه وي او هم د کار شرایط او دساعتونو تنظیم په قانون کې په نظر کې ونیول شي او بیا تطبیقي بڼه خپله کړي .

## ۱۰۱۱- واده:

د ماشومانو ودول نه یوازي په ملي قوانینو کې بلکې په نړیوال قوانینو کې هم ناقانونه عمل پیژندل شوي دي، د مثال په توګه دښځو نړیوال کنفرانس په اعلامیه کې چې په ۱۹۹۵ ز کال کې په پیکېنګ کې جوړ شو دایې اعلام کړه چې د ماشومانو ودول باید ناقانونه شي او دا هڅه وشي چې د واده کولو لږترلږه عمر باید وټاکل شي .

په همدې توګه د افغانستان د مدني قانون په ۷۱ ماده کې د هغي ماشومي عمر چې تر ۱۵ لږ وي نکاح یې جواز نلري او دداسو ماشومانو نکاح غیر قانوني بڼه لري

خو د ۱۵ او ۱۶ کلنو نجونو نکاح کول يوازې د پلار رضايت په صورت کې ترسره کېدای شی او يا هم د صلاحيت لرونکې محکمې له خوا څخه په داسې حال کې کېدای شی چې د نجلۍ له پاره مناسب سړی وي .

په همدې ډول د ښځو په وړاندې د هرډول تبعيض له منځه وړلو تړون د۱۶ ماده په دويمه فقره کې راغلي دي "د ماشومانو کوژده کول او واده کول د قانون لـه مخـې د اجرا وړ نه ګرځي، ټول اړونده اقدامات او دهغه جملې څخه د لږ تر لـږه سـن د واده کولو له پاره بايد وټاکل شي او واده کول دي ددولت په رسمي ځانګو کې ثبت شي".

لږ ترلږه ۲۶۵ ماشومانو ۱ , ۹ ٪ چې مرکه ورسره شوې ده تر ۱۶ کلنـي تـر مخـه واده شوي دي خو دا هم بايد ووايو چې د زيږيدولو دسند او تذکرې د نه لرلو په صورت کې دا ګرانه ده چې عمر معلوم شي، نو ځکه دغه څه د نجونـو لـه پـاره د واده پـه وخت کې ستونزې پيداکوي. او هم هغه نجـوني چـې پـه ښـوونځي کـې نـه دي او وديږي د هغوي د عمر تثبيت هم مشکل کار دي، نـو ځکـه دهغـه نجونـو رښـتيا نـي شمير چې په ماشومتوب ودېږي اسانه کار نه دي، خو د ځينو دليلونو له امله ويـلای شو چې د ماشومانو ودول ډير دي او دهغه دليلونه دادي .

- په سلو کې ۶ , ۴۳ ٪ ودونه ددي له پاره شوي دي چې اقتصادي ستونزې يې لرلې .

- په سلو کې ۱ , ۷ودونو دليل د دښمنيو له منځه وړل وه .

- په سلو کې ۳۷ ٪ ودونه د بدل په نوم شوي دي .

- په سلو کې ۳ , ۱۲ ٪ د نورو دليلونو په سبب لکه سيمه ييز رواجونه او يا هم د پلرونو د تصميم له مخې شويدي .




دښځو په وړاندي د هر ډول تبعيض د منځه وړلو تړون د ۱۶ مادي په دويمـه فقـره کې راغلي دي (( دماشومانو کوژده او واده کول د قانون له مخې د اجرا وړ نه ګرځي او ټولې اړين اقدامات او دهغه جملې څخه دواده کولو لږترلږه عمر بايد وټاکل شـي او ودونه په دولتي ځانګو کې په رسمي ډول ثبت شي ))

دهيواد دمدني قانون ۷۰ ماده د واده د اهليت د پوره کولو له پاره د نارينه سن ۱۸ او دنجلۍ سن ۱۶ ښودلي دي، خو دا په داسې حال کې ده چې د ماشوم د حقونو په تړون کې ماشوم داسې تعريف شوي دي (( ماشوم هغه څوک دی چـې د عمـر ۱۸ کاله يې لا ندي پوره کړي ))

"افغانستان یو دهغه هیوادونو څخه دي چې دا تړون یې منلي دي او دهغه د محتو سره یې خپله موافقه کړیده".

## ۱۰۱۲- دګډون کولو او برخي اخیستلو حق :

د ګډون کولو او برخي اخیستلو حق دماشومانو د اساسي حق څخه ګڼل کېږي، ماشومان حق لري هرهغه څه چې په دوي پوري اړه نیسي برخه واخلي او خپل نظر بیان کې په ځانګړي توګه په کورونو او ټولنه کې. دغه څه باید دپلرونو اومیندو له خوا رعایت کړل شي. دا دپلرونو او میندو دنده ده چې خپلو ماشومانو ته دا حق ورکړ ي چې په هغه چارو کې برخه واخلي کوم چې په دوي پوري اړه لري .

په همدې ډول ماشومان حق لري چې په فرهنګي فعالیتونو او د سالمو ټولنو په جوړولو کې برخه واخلي او خبل نظرونه سره شریک کړي، د ماشومانو د حقونو تړون په ۱۵ ماده کې لیکې (( ماشومان حق لري چې په آزاده توګه د ټولنو او سازمانونو په جوړولو کې ګډون وکړي. ماشومان حق لري په هغه موضوعګانو کې چې په دوي پوري اړه نیسي برخه واخلي، ددې ترڅنګه د هغوي نظرونه باید واوریدل شي او توجه ورته وشي .))

دماشومانو سره د مرکو په پایله کې دا څرګنده شوه چې په ډیرو برخو کې هغوي په موضوعګانو کې برخه نه اخلي او ددوي په اړه تصمیمونه ډیر ځله د هغوي د لویانو له خوا نیول کېږي .

ډیر ماشومان ددغې پوښتني دطرح کولو سره بلد نه وه، نوځکه دا ورته معمولی پوښتنه ښکاره شوه. پوښتل معمول څه نه وو، په هر صورت لږ شمیر ماشومانو وکړاي شواي چې په دې برخه کې خپل نظرونه ووایې. په سلو کې ۳۰,۶ ٪ ماشومانو وویل چې پلرونو او میندو د هغوي سره د تصمیم نیولو په برخه کې کومه اړیکه نده نیولي او ټول تصمیمونه د هغوي له خوا نیول کېږي .

ددې ترڅنګه په ټولنو کې ګډون کول یا د اتحادیو جوړول هم هغوي ته کومه مانا نه لرله، د لوبو نه پرته چې ماشومانو په ګروپي ډول ترسره کول نورې ټولنې چې هغوې خپل ټولنیز فعالیت په کې سرته ورسوي، موجود نه وو. لکه څنګه چې د مرکه شویو څخه څرګندیږي په سلو کې ۹۴,۸ ٪ یا ۲۵۵۹ ماشومان چې مرکه ورسره شوي ده دي سوال ته منفي ځواب ورکړ چې که دي په کوم سازمان اویا ګروپي لوبو کې چې د دوي له پاره جوړه شوي دي ګډون کړي دي، نو د پورته ځواب څخه دا څرګندیږي چې په ډیرو سیمو کې د ماشومانو د ټولنیز فعالیتونو له پاره هیڅ ځاي ندي جوړ شوي. نو د هغه څخه معلومه وه چې د ماشومانو د لوبو او فعالیت ځایونه محدود شکل درلود، خو زموږ د پوښتونکو د سوال کولو څخه دا معلومه شوه چې په ماشومانو کې د پلټني ( کنجکاوي) حس ډیر دي او په دې ډول باید هڅه وشي چې د دوي له پاره ځایونه جوړکړل شي او هغوي ګروپي او ټولنیز کار ته تشویق کړل شي، چې دا کار به ډیر مؤثر تمام شي .

## ۱۰۱۳- پایله اخیستنه :

ځرنګه چې په سریزه کې هم یادونه شوې ده دغه پروژه په ازمایښتي توګه د ۲۰۰۶ زکال په نیمایې کې پیل شوي ده او له هغه څخه په لاس راغلي پایلي په تحلیلي ډول ترکتني لاندي نیول شوي دي. د یادوني وړ ده چې دغه پوښتني چې په ازمایښتي توګه په دې پروژه کې ترې ګټه اخیستل شوي ده په اوس وخت کې ترکتني لاندي دي چې د لاسته راوړلو تجربو څخه په ګټه اخیستنه هغه د ازمایښتي دورې څخه نوره هم غني کړو، خو بیا هم سختي هڅي وشوې چې د ماشومانو د مهمو او اساسي موضوعګانو په اړه د ماشومانو وضعیت په افغانستان کې تر جدي غور لاندي ونیول شي، چې د ټولیزي پایلې اخیستني په توګه دغه موضوعګاني باید تر ژر غور لاندې ونیول شي .

- په ټولو کتنو کې چې شوي دي، دغه ربوټ ځرګندوي چې ماشومان په افغانستان کې تر ټولو زیانمن لیدونکې ټولنیز ګروپ دي .

- ددغه راپور پایلی په ځینو حالتونو کې دماشومانو څخه دملاتړ، دزمینو دنشتوالی او کمښت ځرګندونه کوي چې د ماشومانو څخه ملاتړ وشي چې البته دغه کمي نه یوازي دماشومانو په پروني او ننني ژوند کې ځرګند معلومیږي بلکې په افغانستان کې د راتلونکې وخت د پروګرامونو په جوړول هم ترجدی پوښتني لاندې راځي.

- اقتصادي فقر په روښانه توګه شهادت ورکوي چې ماشومان ددغه وضعي قربانیان دي، ځکه ددغه راپور په ټولو برخو کې اشاره شوې ده چې د کورنیو اقتصادي ستونزي تر هر څه دمخه ماشومان زیانمن کوي چې د هغه ښکاره نموني د ماشومانو په واده کولو، کار کولو او ښووني او روزني ته د هغوي د نه لاسرسني په کېفیت کې ګورو .

- په هیواد کې د ماشومانو د ژوند د واقعیتونو امکانات رابښیې چې د ماشومانو د اړتیا وو د پوره کولو له پاره لازمه پانګه حتا په نسبي ډول هم په کار نه ده اچول شوي چې دغه موضوع ټولیز شیان لکه پاکو اوبو ته لاسرسی، روغتیایې اسانتیاوو ته دهغوي لاسرسی او په ځانګړي توګه دا زمینه نه ده برابره شوي چې ماشومان په ښه ډول ښووني او روزني ته لاره پیداکوي .

- د ماشومانو د حقونو او اړتیا وو څخه ټولیزه ناپوهي ددې سبب شوي ده چې هغوي دخپلو حقونو څخه بي خبره وي او په پایله کې هغوي د تاوتریخوالي قرباني شي، د ماشومانو په وړاندي ژبني او بدني تاوتریخوالي یو عادي او طبیعي کار ګڼل شوی دی .

له هغه ځایه چې د ماشومانو وضعي ته پوره پاملرنه نه کېږي، هغه ګروپ چې ځانګړي مراقبت ته اړتیا لري ( معلول، معیوب، یتیمان ...) نو د ماشومانو له ډلي نه دوي ډېر زیان لیدونکې دي . همدارنګه د پلرونو او میندو څخه دماشومانو یې برخه کیدل محرومیږي او یا دا چې یوېې دلاسه ورکوي نو یتیم ماشوم مجبوره کېږي چې د کور د نورو غړو له پاره غذا او خواړه برابر کړي چې په دې ډول ماشوم د خطر نه دک کار ته غاړه ږدي او دښووني او روزني څخه محروم پاتیږي.

- ناوړه رسم او رواج یو دهغه ګواښونو څخه دي چې د ماشومانو پر ژوند منفي اغیزه کوي او ډېر ځله ددې سبب ګرځي چې د هغوي حقونه تر پښو لاندي شي له هغه جملې نه ویلاي شو چې د ماشوم ودول او یا هم د ناوړه رسم او عنعني په توګه ماشوم د ښووني او روزني څخه محرومه کول .

## ۱۰۱۴- وړاندیزونه:

**دولتي څانګو ته :**

- هغه څه چې په دې راپور کې دپاملرنې وړ دي، دا به وي چې داسي قوانین جوړ شي چې د هغه له مخې ماشوم د یو خپلواک موجود په توګه ورته درناوي وشي او د هغه ټول حقونه پکې لیکلي او طرح کړل شي، ترڅو د هغه قوانینو په شته والي کې د ماشوم سره د ناوړه سلوک مخنیوي وشي .
- دلاسلیک شویو نړیوالو معاهدو او سندونو ته د دولت ژمنتیا دا ایجابوي چې دا فغانستان دولت د ماشومانو د اړتیا وو د پوره کولو دپار ه مناسبه بودجه د نورو په څنګ کې وټاکې او هر کال دي د ماشومانو د ودې او پرمختګ دباره د بودجې وړاندوینه وکړي او هغه دي ددې کار له پاره تیاره کړي .
- دهغه پراخو ستونزو سره چې ماشومان ورسره مخامخ دي د افغانستان دولت باید هڅه وکړي چې څني موسسې او پروژې دې ته وهڅوي چې د ماشومانو د حقونو د تامین په برخه کې مرستي وکړي .
- د ماشومانو د حقونو د تامین له پاره یوه ملي ستراتیژي طرح او هغه دي په عمل کې پلي کړي.
- دې ته په پاملرنې سره چې د ماشومانو د وضعیت ښه والي د هغوي د کورني وضعیت د ښه والي سره تړاو لري نو دولت د اساسي قانون له مخي چې په ۵۴ ماده کې راغلي دي، باید د کورنیود سلامتي له پاره پراخه بروګرامونه تر لاس لاندي ونیسي او په ځانګړي توګه د کورني تاوتریخوالي، د ماشوم کار، او د ماشوم د واده کولو مخه ونیسي .

## د مدني ټولنو موسسو او مطبوعاتو ته:

- د مدني ټولني موسسي او ټولیزي رسني باید خپل ډیر وخت د ماشوم د اړتیاوو د بوره کولو تحلیل او بحث ته ورکړي .
- په ټولنیزو فعالیتونو کې چې په یو ډول په ماشوم بوري اړتیا پیداکوي، هڅه دي وشي چې ماشومان په هغه کې برخه واخلي .
- فرهنګي ټولني باید اوچت ګامونه واخلي چې د ماشوم ادبیات تقویه شي او دا زمینه برابره کړي چې ماشومان اطلاعاتو او معلوماتو ته لاسرسی ولري .
- د تاوتریخوالي د له مینځه وړلو له پاره پراخه تبلیغ وشي او دهغه اغیزه دي په ټولنه کې روښانه کړل شي .
- مدني ټولني او ټولیزي رسنی باید کلکې هڅي وکړي چې د ناوړه عنعنو او رواجونو مخه ونیسي ځکه چې هغه د ماشوم د حقونو ترپښولاندي کول دي .

## تمویل کوونکې موسسې:

د ماشومانو د حقونو د تامین له پاره ځانګړي پاملرنه په کار ده چې د پورته مطلب سرته رسولو له پاره بیرني پراخي منابع پرانیزي، غوښتنه کېږي چې تمویل کوونکي موسسی د پروژو د تمویل په وخت کې د ماشومانو د ګټي اخیستني درجه په نظر کې ونیسي اوپه مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه پورته شرطونه پرغوښتونکو موسسو ومني .

- ددې تر څنګه باید ځانګړي مالي منابع د ماشومانو د حقونو د تامین له پاره پرانستل شي .